USAID | AGRICULTURAL CREDIT ENHANCEMENT
FROM THE AMERICAN PEOPLE

MINISTRY of AGRICULTURE, IRRIGATION and LIVESTOCK
Statistics & Marketing Information Dept.

د بازار لنډيز يا خلاصه: انګور
د صادراتو د ودې ليدلورى



MARKET BRIEF

# انګور

دا نشريه د د نړيوال پراختيا لپاره د امريکا د متحدو ايالاتو د کرنيز قرضونو د ملاتړ پروګرام لخوا د پاليسي او پلان جوړونى رياست د احصايې او بازارموندنې ديپارتمنت په مرسته د افغانستان د کرنې، اوبو لګونې او مالداري وزارت د نظر لاندې برابر شوى دى.

ګڼه ۲

PAYWAND پيوند

# انګور

دا بازار په لنډ ډول د انګورو د صادراتو ظرفیت د مختلفو عواملو دارزیابۍ له لارې، لکه کورنی او بهرنی محصول، برابرول، سوداګریز جریان او قیمتونه څیړی چې موخه یې لاندینیو کلیدي پوښتنوته ځواب ورکول دي:

۱. کېدائ شي چې د انګور د صادراتو نرخ د رقابت پر مبنا وي؟

۲. کوم هېوادونه باید د صادراتو د موخې مارکېټونه را منځ ته کړي؟


۳. کله او چېر ته مارکېټونه پرانیستل کېږي؟

ځواب ورکول نوموړو پوښتنوته ضرور ځکه د ه چې:۱. انګور په هېواد کې په پراخه ډول کرل کیږی چه د کورنی تولید ۱ په دریمه* جوړوی.
۲. که چېرې مارکېټي فرصتونه په سمه توګه وپیژندل او و څارل شي، نو کولائ شي په فرعی سکټور هم مثبته اغېزه ولري.

## کورنی محصول

د انګورو کورنی محصول په ۲۰۰۹ کال کې د ۶۴ زرو ټنو په شا او خواکې اټکل کړائ شوی وو، په داسی حال کی چې حاصلات په تېرو ۱۰ کلونو کې ۱۲ سلنه پورته تللی دی (د مرکزي احصایي اداره). دانګورو کورنی محصول په جنوب ختیځ کی لکه کندهارچه یود عمده تولیدونکیو ولایتونو څخه دی، همدا راز په مرکزی او شمالی زونونوکی د سرپل، پروان په شمول کابل هم یو دعمده تولیدونکو ولایتونو دجملی څخه دی. او څنګه چې په ګراف کې خوول کېږ ي د هېواد په غرب لکه هرات کې هم انګور پیدا کېږي. که څه هم یو ه کمه اندازه انګور له بهر ه را واردېږي، خو کورنی محصول د کورني مصرف یو لویه برخه جوړه وي

**لمړی شکل: د انګورو تولید د زون په اساس ۲۰۰۹**





منبع: ریاست احصاییه مرکزی

## نړیوال محصول

که څه هم انګور په هېواد کې د میوه جاتو او سبزیجاتو په پرتله تر ټولو زیاته تولیدي میوه ده،خوبیا هم افغانستان د نوموړي توکي د کمي اندزي تولیدونکی هېواد دی ، نسبت اروپایی ټولنی ته چې د نړی ۴۱ په سلو کې چه ۲۴۹۵۶ زره ټنه، چین ۱۲ په سلو کې، او متحده ایالات ۱۰ په سلوکی تولید برابروی، سره لدی بیا هم دمعلوماتو پربنسټ چه په لاس راغلی دی ۴.۱ فیصده په تولیدولو سره دنړئ د ۱۵ عمده تولیدونکیو هیوادونو په جمله کی شمیرل کیږی. دنړیوال تولید په هکله معلومات په دویم ګراف کې ورکړل شوي دي، چه ذکر شوی هیوادونه په نړیوالو مارکېټونو کې د لوړې کچې د سیا لی د تمی ښکارندويي کوي.


**دوهم شکل: دانګورو عمده تولیدونکی هیوادونه، ۲۰۰۹**




منبع: سازمان غذا و زراعت ملل متحد.


# سوداګری بهیری

دریم ګراف: د انګورو صادرات په ۲۰۰۰ او ۲۰۰۹ کلونو کې
(۰۰۰ ډالر)





منبع: ریاست احصائیه مرکزی

څلورم ګراف: د افغانستان د صادراتو ملکري ۲۰۰۰-۲۰۰۹




منبع: UNSTAT database, *X = Value in US$ Y = Export Price in US$/Kg Size = Quantity in Kg

پنځم ګرا ف: د انګورو عمده واردتي هیوادونه




منبع: Unstat online

## صادرات

په ملي کچه د انګور و صادرات په ورستۍ لسیزه کې، په چټکی سره ۴۲۳ په سلو کي وده کړي ده چي دا وده په کال ۲۰۰۹ کې د ۱۵.۵ میلیونو ډالرو ته رسیده. په ۲۰۰۹ کال کی انګور د نورو میوو او سبزیجاتو په منځ کی عمده صادراتی توکی وه چی د صادراتی ودی ظرفیت په ګوته کوي. خو که چیرې د یوهېواد د صادراتو د عوایدو له پلوه انګور ته و کتل شي نو دا د ډېر با ارزښته توکی نه ګڼل کیږي. تازه میوه په مجموعي ډول د صادراتو یوازی ۸ په سلو کی جوړوي چی تقریباَ ۳ په سلوکې یي انګور اټکل شوی دی.

آیا دصادراتو د پراختیا امکانات شته، که وي نو په کوم ځای کې؟ دبیلابیلو عواملو په نظرکی نیولوسره، به لنډ مهال کی صادراتي هڅه او هاند باید و کوم جهت ته سوق شي؟

څلورم ګراف د انګورو د صادراتو موجوده جغرافیه او د ځانګړ ي سودا ګریز تو کي تدراکات عمدتاً په سیمیزو مارکېټونو کې په ګوته کوي. اصلي صادراتي ملګری پاکستان دی چې ۵۰.۲ ملیونه ډالرو په ارزښت یې انګور وارد کړي دي، چې په مجموعي ډول د صادراتو ۹۷ سلنه د اوسنی لیسیزی په لړ کې جوړي. لکه څنګه چی په ګراف کی ښوول کیږي ځینې وختونه صادرات نورو هیوادونو ته لکه هندوستان او د اروپایي اتحادیې هېوادونوته هم لار موندلی ده.

پنځم ګراف له بله خوا هغه هیوادونه ښیي چی عمده نړیوال بهیر په کی اداره شوی. په زړه پوري خبره داده چی عمده تولیدي هیوادونه لکه اروپایي اتحادیه -۲۷، د امریکا متحده ایالات او چین هم واردونکي هیوادونه دي.

اروپایي اتحادیه او د امریکا متحده ایالات لوی بازارونه دي که څه هم دوی تر یومعین بریده خود کفا دی.

واردات د اروپایي اتحادیې په دې ننه کې د کورني مصرف ۶۰ سلنه جوړوي. د اروپایي اتحادیې ته عمده تهیه کونکي هېوادونه عبارت دي له چیلي هیواد (۱۱ ٪)، سهیلي افریقا (۱۳٪ ، برازیل (۳.۴ ٪ ، ارجینتاین (۲.۴ ٪) ، هند (۱.۷ ٪ ، او ترکیه (۱.۴. *٪)

# انګور

د نرخ له پلوه اروپايي اتحاديه يو ګټور بازار شمېرل کيږي. د مثال په ډول، په ۲۰۰۹ کال کې د انګورو نرخونه په يوه عمده بندر روټرډام (Rotterdam) کی په اوسط ډول ۲-۳.۲ امريکايي ډالرو ترمنځ وو. سرله دې ټولو بيا هم لوړه حفظ الصحه، د بسته بندی معيارونه او نور غيرترافي خنډونه لکه د اروپايي بازار داړتياوونه مرفوع کول په منظمه او په بريالی توګه او هم دا رنګه لوړې ټرانسپورټي بيی لنډ مهال کې اروپايي اتحاديه يوګران مارکېټ وي. ورته منطق کيدای شي چې د امريکا او کاناډا دتازه ميوو په بازارونو وکارول شي.
په لنډ مهال کې صادراتي هڅې بايد په هغو بازارونو متمرکزې شي کوم چې نږدې جغرافيايي موقعيت لري، ټيټې معياري تمې لري. سره له دې ټولو بيا هم د وسعت او ممکنه ګټو له پلوه ګټوربازارونه وي. روسيه، هند اوحتی قزاقستان هغه سيمه ييز هيوادونه دي چې پورتني معيارونه ا ندولولای شي.
نرخونه

په لاندنې بند يا پرګراف کې دافغاني انګور متناسب نرخ په ځينو دغو سيمو کې ارزيابي کيږي.
په ورروستی قدمونو کی کولای شو نور ګټور بازارونه وڅيړو


## شته بازارونه - پاکستان

افغاني انګور په موجوده صادراتي بازار يعني پاکستان کې د سيالی وړنرخ لري. لکه څنګه چې په شپږم ګراف کې ښوول کيږي، دانګور نرخونه په کابل، کندهار او لاهور په ورته ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د اکتوبر په مياشتوکي ۱۵۴٪ توپير دکابل د اوسط نرخ، ۰.۴۵ امريکايي ډالر يا کيلوګرام او د لاهور په غونډ ډول خرڅول اوسط نرخ ترمنځ ښيي. ترانسپورټي مصارف چې ګمرکي تصفيه، بيمه اود انګورو ۳۵٪ وارداتي تعرفه يا نرخپانه په بر کې نيسي د صادراتو اوسط قيمت ۰. ۴۵ امريکايي ډالرو/کيلوګراموته لوړيږي چې ۶۲٪ اوسطه ممکنه ګټې ته ځای په کې پا تې کيږي. اوسط برابر صادراتي نرخ په شمول دی هغې مالي ځوک چې توکي يا خدمات رانيسي له خواه ورکول کيږي ۰.۸۱ ا مريکايي ډالر/ کيلوګرامو رسيږي چې دلاهور دعمده خرڅولو د نرخونوپه پرتله ډېر ښکته دی.

په هرډول، کا دا ومنو چې نرخونه په بازار کې ښکته او پورته ځي، نو بازارته دد ننوتو وخت يو مهم عامل دګټې په زياتوالي کې محسوبيږي.

سره له دې، په خورا لړ اوسط نرخ چې يو مقاطعه کارکولای شي انګور خرڅ کړي، د لاهور په عمده خرڅولو بازارکي ۰.۷۵ امريکايي ډالره/کيلوګرامه دی. د اوسط صادراتي نرخونو تغير موندل دکابل په نرخونو پورې تړاو لري. که چيرې دلاهور د لوړو نرخونو سره ( د۲۰۱۰ کال د اګست دريمه اونی) کې ګډ کړای شي نو دګټې پوله ۱۴۵٪ ته پورته کيږي. له بلې خواه که چيرې مقاطعه کار هڅه وکړي چې انګور د سپټامبر په ورروستی او د اکتوبر په لمړيو اونيوکو وپلوري، کله چې د لاهور نرخونه ټيټ وي د ګټو پوله له صفر لاندې راپرويزي.

**شپږم شکل:د انګورو عمده نرخونه په لاهور، کابل او د کابل او لاهور صادراتی نرخ، د اکتوبر ۲۰۰۹ څخه تر اکتوبر ۲۰۱۰ پوری (په ډالرو)**




منبع: AMIS، TAMAS، www.agmarknet.nic.in پاکستان، برنامه معاومات روشن MALOMAT-Roshan . *قيمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، ګمرک و تعرفه وارداتی (در پاکستان ۳۵٪ بر انګور) ميباشد.

# نوی بازارونه

## نو ي بازارونه – هندو ستان


اووم او اتم ګرافونه دانګورو عمده خرڅلاو نرخونه د هند په دوو عمده خرڅلاو بازارونو راجستان او نوي ډېلي کې په ګوته کوي او همدارنګه د عمده خرڅلاو نرخونه په کابل او کندهار کې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال په اړدوکې ښيي. څنګه چې نرخونه دموسم په پای کی مخ په پورته کيدو وي، ورته د نرخ د ميلان نښې په دواړو موسمونو کې تر سترګو کيږي. ۱۳۹٪ زياتوالی چې د مشاهدې له پيله په ۲۰۰۹ کال د اکتوبر له مياشتې د کال تر پايه ښايي چې د موسمي عرضې او تقاضا د کموالی نتيجه وي. په داسې حال کې چې د نرخ مجموعي بدلون په ۲۰۱۰ د يوه پيا وړي پيسې له خواه ۲۰۱۰ کال کې حمايه کيده.

د عمده خرڅلاو نرخ مقايسه د راجستان سره ښيي چې نرخونه په مربوطه د عمده خرڅلاو په بازارونو کې دومره د پام وړ توپير نه مومي. په راجستان کې ډ عمده خرڅلاو نرخ حد اقل اوسط ۰.۴۵ امريکايي ډالرو کيږي، حال داچې ډ لوړ نرخ اوسط ۰.۶۵ امريکايي ډالر/ کيلو ګرامه کيږي.

د عمده خرڅلاو نرخ مقايسه د راجستان سره ښيي چې نرخونه په مربوطه د عمده خرڅلاو بازارونو کې دومره د پام وړ توپير نه مومي. په راجستان کې د عمده خرڅلاو نرخ حد اقل اوسط ۰.۴۵ امريکايي ډالره کيږي، حال داچې د لوړ نرخ اوسط ۰.۶۵ امريکايي ډالر/ کيلو ګرامه کيږي.

په دې دوو ساحوکې کوم لږ توپير چې د نرخونو تر منځ موجود دی دا په ګوته کوي چې په راجستان کې د انګورو صادرات تقريبا غير عملي بريښي له هغه ځايه چې دصادراتو نرخ د بازار له نرخ ډېرى وخت اوړي. سره له دې ټولو بيا هم د ۲۰۱۰ کال د موسم په پيل کې يو فرصت موجود وه. د راجستان بازار د جولای او اکتوبر په ميا شتوکې په کافي اندازه انګور ورته برابر کړای نشو، حال داچې د صادراتو نرخ په راجستان کې د ۰.۸ امريکايي ډالرو/کيلوګرامو په شا او خواه کې بدلون مونده. په هغه وخت کې کيدای شو چې داسې يو نرخ را منځ ته شوی وای چې دومره د رقابت وړ نوی. لا ښې صادراتي نظريې دهندوستان پلازمينې نوي ډېلي د صادراتوله ورته محاسبې معلوميږي. د عمده خرڅلاواوسطې ټيټې بيې ۰.۷۳ امريکايي ډالره/ کيلوګرام او لوړې اوسطې بيې ۰.۳ امريکايي ډالره/ کيلوګرامو ترمنځه بدلون راغی. ۶۳- ۱۸۰٪ توپير د کابل او کندهاردنرخونوپه پرتله دصادراتواضافه قيمت ته ځای پرېښود ترڅو دنوي ډېلي عمده خرڅلاوبازارسمبال اوورته ورسيږي.

**اووم ګراف: د انګورو نرخ په د هند په راجستان او د کابل په بازارونو کی د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د اکتوبر په مياشتو کې- په امريکايي ډالرو**





منبع: TAMAS، www.agmarknet.nic.in، برنامه USAID ADP/E، برنامه معاومات روشن MALOMAT–Roshan و برنامه USAID IDEA NEW. *قيمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، گمرک و تعرفه وارداتی (در هند ۴۰٪ بر انگور) ميباشد.

# انګور

د اوسطي ګمرکي تصفيې، د ټرانسپورټ مصرف اود وارداتي تعرفې يا نرخپاني (۴۰٪ د انګور) له زياتولو وروسته، د صادراتي بيې سره د نوي ډېلي مارکېټ کولای شي چې ۰.۹۱ امريکايي ډالرو/ کيلوګراموته ورسېږي. دکابل او کندهار نرخونه د انګورود کم نرخ په پرتله لوړ او د لوړ اوسط نرخ په پرتله ټيټ دي. ددې شرايطو لاندې دتداراکاتو وخت ډېر مهم شمېرل کېږي. لکه څنګه چې اتم ګراف کې ښوول کېږي د ممکنه ګټو پوله د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر او نوامبر او ۲۰۱۰ په دوولومړنيو مياشتوکې ۱.۵ ته رسېږي. د اوسطي ګټې لمن د ۲۰۰۹ کال اکتوبر او نوامبر په موده کې د ۲۰ – ۷۵٪ تر منځ توپيروموند. حال داچې دا توپير د۲۰۱۰ کال د جولای او اګست په مياشتوکې د ۲۸ او ۷۳٪ تر منځ وه. په نوي ډېلي کې هم په دغومياشتو کې مقادير او تداراکات د کم والي ميلان لري. په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کی په هند کی د دغو دووعمده خرڅلاو بازارونو تحليل او تجزيې د صادراتوپريکړې په اړه د درې مهمو عواملو د پوهاوي سطحه لوړه کړه. لمړی، د لويو قلمرونو لکه هند تر منځ توپيراو دهغومارکېټونو ا نتخابول دي چيرې چې صادرات اقتصادي ارزښت او معنی ولري.دوهم، په دقيق غوراواحتياط سره د صادراتو دموقع ټاکل دي چې دا دګټې د لوړوالي سبب ګرځي. دريم د رقابتي نرخ د متممو خدماتو عامل دی:

نهم ګراف د صادراتي نرخ دوې حالته ښيي چې په دوه برخو وېشل کيږي: لمړۍ سناريو (حالت) د ټرانسپورټ موجوده مصرف چې د ۴۰ اينچ کا نتينرپه بدل کې شا او خواه ۹۰۰۰۰ امريکا يي ډالرکېږي په نظر کې نيسي او دويمه سناريو لږ ټرانسپورتي مصارف چې ۶۴۰۰ کيږي په نظرکې نيسي. ټيټې ترانسپودتي تعرفې يا نرخپاني وارداتي نرخ او همدارنګه د ټرانسپورټ نرخ چې د وارداتو د نرخ سره يو ځای کېږي۱۰٪ ته راښکته کوي. چې دا به په چټکۍ سره د سوداګرو دګټو لمن اوچته او سوداګرېځ حجم په مربوطه مارکېټونوکې ډېروالي و مومي.

اتم ګراف: د انګورو عمده نرخ په نوي ډېلي او کابل کې او د صادراتو نرخ
کابل- نوی ډېلی، امريکايی ډالر، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د اکټوبر ميا شتې





منبع: TAMAS، www.agmarknet.nic.in، برنامه USAID ADP/E، برنامه معاومات روشن MALOMAT-Roshan و برنامه USAID IDEA NEW. *قيمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، ګمرک و تعرفه وارداتی (در هند ۴۰٪ بر انګور) ميباشد.



# نوي بازارونه

نهم ګراف: د انګورو نرخ د یو کیلو ګرام ترکیب سره له جزیاتو





منبع: TAMAS، www.agmarknet.nic.in، برنامه USAID ADP/E، برنامه معاومات روشن MALOMAT-Roshan و برنامه USAID IDEA NEW. *قیمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، ګمرک و تعرفه وارداتی (در هند ٤٠٪ بر انګور) میباشد.

نوي بازارونو – روسي مارکېټ

د مشاهدې په ترځ کې لاښي وړاندويني او اندونه د مسکو په مارکېټ کې ليدل کيږي. انګور د ديمتروسکي په عمده خرڅلاومارکېټ کې په دومره لوړه بيه خرڅ شول چې حتی ډېر لوړ ټرانسپورټي مصارف چې تقريباً ۰،۵ امريکايي ډالر/ کيلوګرامه کيږي نشي کولای چې د افغاني انګورو رقابتي نرخ په هغه مارکېټ کې د ننګونو سره مخ کړي. په ټول کال کې د عمده خرڅلاو نرخ د مسکو په مارکېټ کې ۲،۸۸ امريکايی ډالر/کيلو ګرامه دی. دا نرخ دکابل د عمده خرڅلاو اوسط نرخ په پرتله شپږ برابره لوړ دی. اساسا د ټرانسپورټ مصارف له وجې دا اوسط صادراتي نرخ ۰،۹۴امريکايي ډالر/ کيلو ګرامه ته خيژي. چې دا بيا په خپل وار سره د صادراتي نرخ او د مسکو مارکېټ نرخ تر منځ توپير په اوسط ډول ۸۲٪ ته رالي. څنګه چې په ګراف کې وليدل شول که چېرې انګورپه دې مارکېټ کې د جنوري او اپريل په موده کې سودا شوي وای نو دګټو ميزان به خورا پورته وه. په دې ډول حالت کې د مارکېټ موقع يا وخت چې ګټه لاس ته راشي مهمه نده بلکه مهمه داده چې اوچته ګټه تر لاسه شي.

۱۰ ګراف: د عمده خرڅلاو نرخونه په کابل او مسکوکې – صادرا تي يو شان نرخ
کابل – مسکو، امريکايی ډالر، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونه د اکتوبر مياشتې




منبع: TAMAS، FruitInform Online، برنامه USAID ADP/E، برنامه معاومات روشن MALOMAT-Roshan و برنامه USAID IDEA NEW. *قیمت صادراتی شامل مصارف ترانسپورت، ګمرک و تعرفه وارداتی (در روسيه ٥٪ بر انګور) میباشد.

# نتيجه‌گيری

**پا یله:**
سره له دې چې انګورد صادراتو له پلوه نړیوال نقش نلري خو بیا هم په افغانستان کې په پراخه پیمانه کرل کیدونکی میوه ده. کورني محصول دا ثابته کړې ده چې کولای شي دېرې کورنی غوښتنې پوره او په بریالی توګه سیمه اییزو بازارونو ته هم صادرات ولري.

دصادراتو د لاپرختیا امکان شته دی که چېرې صادراتي موخې په ستراتیژیک ډول وټاکل شي. لوی بازارونه لکه اروپایي اتحادیه او د امریکا محتده ایالات ګټور ښکاري خو بیا هم دو بازارونو ته د ننوتلو لوړ نورمونه لکه حفظ الصحه، بسته بندی، او سورت کول چې د لوړو متممو خدماتو مصارف ور سره یوځای وي چې د مقاطعه کارانو د رضایت نشتوالی لامل ګرځي چې دواړه دندې تر سره کړي ځکه نو په لنډ مهال کې صادراتي هڅې باید د جغرافیې له پلوه په نږدې او د لږ غوښتنې او د ښکته نورمونو په بازارونو متمرکزې شي. خو بیا هم ګټې د سایز او ممکنه فایدو له پلوه په نظر کې و نیو ل شي، په هر حال سیمیز صادراتي بازارون په لنډ محال کې باید په احتیاط سره انتخاب او بازار ته د ننوتو ځانګړینې لومړنی کتنې یا ارزیابي اړیني دي. له کو مه ځا یه چې مارکیټ ته د ننو تو شرایط یو له بله تو پیر لر ي. د پا کستان د مارکیټ په حالت کې د ټرانسپورټ لا ټیټ مصارف د ګټو لپاره بدلون ته ځای لري.
د د ې لپاره چې ګټه لاس ته راشي بازار ته ننوتل او د بازار انتخاب ډېر مهم نقش لري.

**نوی بازارونه:**
افغانی انګورو په اثبات ورسوله چه په هغه بازارونو کی چه تر اوسه ندی څیرل شوی ښه رقابت وکړای شي، دوه مختلفو هیوادونو ته د صادراتی محاسبی وښودله چی ده مهمه ده ترڅو دبازارونو تر منځ توپیر د هغوی د منطقی په اساس صورت ونیسی او هغه بازارونه غوره کړل چه زیات اقتصادی وی.

د مسکو بازار اساساً د لا لوړ نرخ بازار محسوبیږي چیرې چې د انګورو صادرات سره د لوړو ټرانسپورټي مصارفو د کال په اوږدو کې ډېرې ګټې منځ ته راوړي. له بلې خوا د روسي وارداتي تعرفه یا نرخ پاڼه د هغو تعرفو یا نرخ پاڼو په پرتله چې سیمه کې کارول کیږي ډېره ټیټه ده. یوه مهمه موضوع چې د متممو خدماتو سیالی چې د صادراتي نرخ کړی ، لکه ټرانسپورټ او د محصولاتو را غونډولو خدمتونو په شمول د ښه کولو، بسته بندۍ او ساتنې چارې صورت مومي توضیح شي.

د دې غیر رقابتي خدمتونو د محصو لاتو په رقابت منفي اغېزه لرلی شي، د متممو خدمتونو لړه ګټه تولو هغو لوبغاړو ته چې د صادراتو په پروسه کې برخه لري د ډېرې ګټې په معنی وي د دې پر ځای چې هېڅ یو لوري ته ګټه ورسیږي. لکه د ممیزو په موضوع کې، کلیدي غوټې د نوي صادراتي بازار ته د ننوتلو د بري لپاره هغه مقاطعه کاران د ی څوک چې ګټې پېژندلی او زیاتولی شي، او ټول هغه څه چې اړین بریښي لکه عمودي او افقي ادغام د تولیداتو ښه بازار موندنه، غوره اوپرځای تصمیم نیونه او یا د نوي تجارتي ماډلونه انکشاف ورکول، ترڅو د نوي او موجوده بازارونه غوښتنې پوره کړي.
د وارداتو پر مبنا د بازار موندې نوي ستراتیژي کولای شي ددې سکټور د ملا تیر وي.

